## ټوماس وېسټ ولې دومره لالهانده دی؟!

**خبر:**

سیمې ته د خپل سفر په دوام، د افغانستان لپاره د امریکا د متحده‌ایالاتو ځانګړی استازی ټوماس وېسټ روانه اوونۍ هند او بیا متحده‌عربي اماراتو ته ځي، چېرته چې له وړاندې د افغانستان پخوانی جمهور رییس حامد کرزی، پخواني وزیران او افغان سیاسیون عمر زاخېلوال، کریم خرم او اوس د طالبانو حکومت د دفاع وزیر ملا محمد یعقوب مجاهد اماراتو ته تللي دي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت تېره اوونۍ د ټوماس وېسټ د دغه سفر په اړه ویلي و؛ چې هغه به په خپل دې سفر کې د بېلابېلو هېوادونو له چارواکو سره د افغان کډوالو د بشري حقونو، سوداګرۍ، د بیان ازادۍ او نورو ننګونو د حل په څرنګوالي خبرې اترې وکړي. د یادولو وړ ده چې وېسټ جاپان ته هم تللی او په دې اړه یې ویلي؛ چې په افغانستان کې له خپلو متحدانو سره په ګډ کار کې د هر ډول ننګونو په وړاندې پیاوړي دي.

**«سرچینه: آزادي راډیو»**

**تبصره:**

درې ځله د انګریزانو ماتې، بیا د شوروي ماتې او دا ځل د امریکا او ناټو ماتې، افغانستان کفري نړۍ‌ته پر یوه سیاه‌چال بدل کړی او نه پوهېږي چې په راتلونکي کې به هغوی ته له دغې سیمې کومې ستونزې راټوکېږي. له همدې امله امریکا له اسلامي امارت سره د مطلقې انزوا او تحریم پر ځای د تعامل سیاست غوره کړی، چې د ټوماس وېسټ یاد سفرونه هم د همدغه سیاست د عملي کولو یوه برخه دي.

**امریکا له یوې خوا غواړي چې افغانستان د خپلو نړیوالو رقیبانو؛ چین او روسیې غېږې ته ونه لوېږي، له بل پلوه له دې سخت وېرېږي چې د افغانستان پر محوریت یو ستر اسلامي دولت چې منځنۍ آسیا له جنوبي آسیا سره یو ځای کړي رامنځ ته نشي او دې ته ورته له هغو نړیوالو مجاهدینو څخه هم اندېښنه لري چې له افغانستان څخه د امریکا او ناټو پر اهدافو باندې بریدونه کوي. نو ځکه په دوامداره توګه هڅه کوي، ترڅو په افغانستان کې خپل سیاسي، اقتصادي، استخباراتي او فرهنګي نفوذ پیاوړی کړي.**

امریکا د خپلو عامه افکارو د مراعاتولو له امله غواړي په افغانستان کې خپل دغه نفوذ په اسلامي خاورو کې د خپلو لاسپوڅو حکومتونو او یو شمېر متحدینو له لارې تامین کړي. د دغو لاسپوڅو اساسي لوبغاړي، قطر، پاکستان، ازبکستان، ترکیه، عربي متحده امارات، سعودي او همداراز د هغې متحدین؛ اروپایي هېوادونه، هند، جاپان او دې ته ورته هېوادونه دي.

**امریکا د تعامل له لارې غواړي، اسلامي امارت په تدریجي ډول نړیوالو کفري ارزښتونو، قوانینو او بنسټونو ته تسلیم کړي، چې څه موده وړاندې دغې چارې ته د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویاند، نډ پرایس «سمې لارې ته د طالبانو برابرول» ویلي وو. یعنې د سیکولرېزم، سیکولر نړیوال نظم او لیبرال ارزښتونو لارې ته، ترڅو اسلامي امارت هم د اسلامي خاورو د نورو لاسپوڅو حکومتونو په څېر له خپلو ګټو سره همغږی کړي.**

له افغانستان څخه د امریکا او ناټو د ځواکونو وتل هېڅکله په دې معنی نه وو، چې امریکا به له افغانستانه لاس اخلي، بلکې هغوی په نظامي ډګر کې له افغانستانه ووتل، خو په سیاسي، اقتصادي، استخباراتي او فرهنګي برخه کې په تدریجي ډول بېرته راګرځېدلي دي. له همدې امله موږ په ډاګه د اسلامي امارت مجاهدینو ته د دې خبرداري ورکول چې امریکا د دوحې د تړون په واسطه یوازې غواړي د خپل تاریخ تر ټولو اوږده جګړه پای ته ورسوي، ترڅو په نړیواله کچه د چین او روسیې د تهدیدونو مهارولو ته وزګار شي.

**اسلامي امارت باید د امریکا او غرب د تعامل (تطمیع او تنبیه) دغه خبیث سیاست دقیق درک کړي او د خطرونو پر وړاندې یې پیاوړي ګامونه پورته کړي. هغه داسې چې نور باید په دغه نړیوال نظم کې ونه لوبېږي، بلکې د نوي نړیوال نظم د رامنځ ته کولو لپاره پر اسلامي امت، د هغه پر استعدادونو او د اسلامي خاورې پر جغرافیه، جیوپولیتیک موقعیت او زیرمو تمرکز وکړي، ترڅو د ستر اسلامي دولت (راشده خلافت) د رامنځ ته کېدو لپاره لاره اواره کړي.** هغه مهال به خلافت په خپل میدان کې د دوی لوبول پیل کړي او د بشریت د هدایت پر وړاندې چې هر ډوک مادي خنډ کیږي، هغه به د راشده خلافت د بهرني سیاست (دعوت او جهاد) په واسطه له مخې لیرې کیږي او اسلامي امت به یو ځل بیا خپل اصلي رسالت چې د کفر او پانګوالي دجال د تورو تیارو څخه د اسلام نور ته د بشریت هدایت دی، اوره ورکړي، ترڅو په آخرت کې جنت ته د ډېرو انسانانو د تلو او له دوزخ څخه د خلاصون سبب شي.

**سیف الله مستنیر**

**د حزب التحریر - ولایه افغانستان د مطبوعاتي دفتر رییس**